**خصوصي او محرم**

نیټه

نوم
پته۱
پته ۲
پوسټ کوډ

ګرانه / ګرانې

ستاسو ډاکټر نن تاسو د خپلو نښو د څېړلو لپاره په عاجل ډول روغتون ته راجع کړی. ځکه چې دا موضوع عاجله ده، تاسو باید په روغتون کې د دوو اونیو په موده کې ملاقات ترلاسه کړی. دا کېدای شي د یو متخصص سره د کلینیکي ملاقات لپاره وي، یا د تشخیصي ازموینې لپاره، لکه د کمرې ازموینه.

ستاسو نښې کېدای شي د ډېرو عامو حالتونو له امله وي، خو مونږ غواړو ډاډ ترلاسه کړو چې کومه جدي ناروغي، په شمول د سرطان، له پامه ونه غورځول شي.

ډېر کسان چې په دې ډول راجع کېږي (په لسو کې نهه) د سرطان تشخیص نه لري. خو دا مهمه ده چې ژر وڅېړل شي، تر څو که کوم حالت درملنې ته اړتیا ولري، ژر تر ژره پیل شي.

تاسو به په راتلونکو څو ورځو کې له روغتون څخه د ملاقات د تنظیم په اړه خبر ترلاسه کړی. خو که چیری د دې لیک تر لاسه کولو لس ورځو کې دننه تاسو هېڅ خبر ترلاسه نه کړی، نو بیا د خپل ډاکټر له منشي سره اړیکه ونیسی، تر څو د راجع کولو د ترسره کېدو ډاډ ترلاسه کړی .

دا ډېر مهم دی چې تاسو ورکړل شوي ملاقات کې د ګډون لپاره هر ډول هڅه وکړی.

کېدای شي تاسو په روغتون کې ځینې ازموینې ته اړتیا ولری، چې له لارې یې متخصص پوه شي چې ستاسو نښې څه شي رامنځته کوي. دغه ازموینې کېدای شي دا وي:

- د وینې ازموینې
- د ایکس رې انځورونه
- د سکین ازموینې(CT/MRI)
- د کمرې ازموینې

تاسو ته به له مخکې خبر درکړل شي که تاسو د سکین یا د کمرې ازموینې ته اړتیا ولری، نو مهرباني وکړی ورکړل شوې لارښوونې تعقیب کړی. کېدای شي تاسو ته پایلې په هماغه ورځ درکړل شي. متخصص به وکولای شي نور معلومات وړاندې کړي او د راتلونکو ګامونو په اړه مشوره وکړي.

کېدای شي تاسو وغواړی چې یو ملګری یا د کورنۍ غړی له ځان سره بوځی. دا به ګټور وي که تاسو د طبي ډلې له خبرو کومې پوښتنې ولری. که تاسو د راجع کولو د دلیل په اړه کومې اندېښنې یا پوښتنې لری، مهرباني وکړی له خپل ډاکټر سره اړیکه ونیسی.

که تاسو د عاجلو راجع کولو په اړه نور معلومات غواړی، نو مهرباني وکړی دې ویبپاڼې ته ورشی:
http://www.cancerresearchuk.org/cancer-symptoms/what-is-an-urgent-referral

د ملاقات تر انتظار پورې سپارښتنه کېږي چې تاسو خپلې عادي کړنې/ورزش ته دوام ورکړی. که نوره درملنه اړینه وي، د درملنې یوه مهمه برخه به ستاسو د فټنس ښه کول وي – لکه د سګرټ څکولو پرېښودل او د فعالیت کچې لوړول.

**<< ډاکټر >>**
د کلینیک د اړیکې جزئیات